AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

حبيب وقار

نیټه ٢٦/١٠/٢٠٠٩

# د مالي ستونزو د اواري کميسيون

له طالبانو را وروسته دوره کې کوم څه چې خلك يې په هر غم او ښادي کې د جوړېدو غږ اوري هغه د کميسيون نوم دی. موږ په دې وروستيو کې د يو بل کميسيون له جوړېدو څخه خبرتيا تر لاسه کړې، چې هغه د مالي ستونزو د اواري کميسيون بلل کېږي. د نوموړي کميسيون د جوړېدو په اړه د افغانستان بانک رييس ښاغلي عبدالقدير فطرت ويلي چې دا کميسيون په ډېرې چټکۍ سره د مالي شخړو قضيې اواروي.

افغان چارواکي وايي، دا کميسيون د بانکونو او دغه راز د مخابراتو په برخه کې مغلقې ستونزې اواروي او د دې ترڅنګ د مخابراتي خدمتونو څرنګوالی هم څاري.

قدير فطرت وايي په خوا په افغانستان کې داسې کومه مرجع نه وه، چې د مخابراتي خدمتونو او بانکدارۍ د سکتور په برخه کې يې ستونزې اوارې کړې وای.

ښاغلي فطرت، چې په کابل کې يې د مالي ستونزو د اوارولو د کميسيون د پرانيستلو پر مهال يې له خبريالانو سره خبرې کولې وويل، دا نوی جوړ شوی کميسيون په بانکدارۍ پورې اړوندې پېښې، مالي او مخابراتي کړکېچونه څاري، ارزوي او بيا يې په اړه اړوندو ادارو ته د سلا مشورې لپاره ورکوي نوموړی زياتوي:

"ګټه يې داده، چې دا کميسيون به په ډېرې چټکۍ سره قضيې اواروي، ځکه چې د دې کميسيون ډېر غړي متخصصين دي، په مخابراتي او بانکي چارو کې زموږ په اوسني قضايي سېستم کې دومره پرمختللې تخصص نشته، دوی له يوې خوا تخصصي بڼه لري او له بلې دا چې کميسيون په ډېرې چټکۍ سره د مالي شخړو قضيې اواروي"

دا نيمه قضايي کميسيون د افغانستان بانك د قانون په چوکاټ کې جوړ شوی، چې له شپږو مياشتو راهيسې يې په غير رسمي توګه په کار پيل کړی او ځينې مالي او مخابراتي ستونزې يې اوارې کړې دي.

د دې کميسيون مشر عبدالله دورانی وايي دوی هڅه کوي، چې يوه قضيه له قانون سره سمه لومړی په دوستانه چاپېريال کې اواره کړي او که چېرې په پنځه لس ورځو کې قضيه اواره نه کړي نو بيا به وروستۍ پرېکړه محکمه کوي.

خو دی وايي، په هر حال هڅه کوي، چې قضيې د نړيوالو معيارونو پر اساس اوارې کړي:

"دا خلک لوړې زده کړې لري، هغوی غواړي په نړيوالو معيارونو باندې دا قضاياوې وڅېړي او د انصاف له مخې پرېکړې وکړي، څارنه خو نه کېږي خو که قضيې په يوه طرف فيصله شي نو هغوی مختار دي چې محاکمو ته ولاړ شي."

د افغانستان د مخابراتو وزارت هم د دغه کميسيون د جوړېدو هرکلی کړی او هيله يې څرګنده کړې، چې د دې کميسيون د بې لوري اقدماتو په پايله کې به مخابراتي خدمتونه لا هم پياوړي شي.

په افغانستان کې د نوي حکومت له جوړېدو وروسته د خصوصي سکتور د سياليو په ډګر کې د بانکونو او مخابراتو په برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی، چې دا مهال له پنځه لسو زيات خصوصي بانکونه او له پنځو زيات د مخابراتو د سکتور کمپنۍ فعاليت لري.

که چېرې د مالي ستونزو د اواري نوې اداره يا نوی کميسيون چې د افغانستان بانک په چوکاټ کې فعاليت کوي هم د نورو کميسيونو او نورو ادارو په ډول ځېل کار مخته يوسي او په خپلو کارونو کې د نورو ادارو په ډول ناکام پاتې شي نو دا به له يوې خوا په دولت او چاراواکو باندې د خلکو اعتماد او باور ته صدمه ورسوي او له بلې خوا به د هېواد اقتصاد ته يوه لويه ضربه وي او نور به بيا خلك د چارواکو په کميسيونو او نوو ادارو بې اعتماده شي او د کميسيونو او ادارو جوړښت ته به د ملنډو په سترګه کتل کېږي، نه د يوې اداري په سترګه، ځکه چې تر دې مخکې د فساد او رشوت پر ضد اداره، د اداري اصلاحاتو کميسيون، د ببړنيو طبيعي پېښو د کچې د ټيټوالي اداره او داسې نورو ادارو فعاليت درلود چې ډېرې يې په خپلو کارونو کې نه دي بريالي او له بلې خوا اوس هېوادوال د کميسيون له نوم څخه بده وړي، ځکه چې په دې حکومت کې تر هر څه کميسيونونه ډېر دي خو پايله يې کمزوری ده./پای/



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ